**ORAC SP/03 (REV 1)**

**د فرعي ژغورني لپاره د غوښتنو کولو په اړه مهم یادداښت**
**<u>د عارضینو له خوا د کډوالۍ د موقعیت لپاره</u>**

1. د اروپايي اتحاد د انصاف محکمې په رڼا کې کومه چې د ایچ این وي .H.N.v په قضیه کې محاکمه امر کوي. د انصاف، برابرۍ او د قانوني اصلاح وزیر، ایرلنډ او عمومي حقوقي وکیل، د اروپايي اتحاد (فرعي ژغورنه) مقررات 2013 (.S.I شمیره 426 د 2013) اصلاح کړل شوي دي.

2. د اروپايي اتحاد (فرعي ژغورنه) (اصلاح) مقررات 2015 (.S.I شمېره 137 د 2015) لاندې ورکړل شویو ترتیباتو ته، کوم چې د محکمې د امر سره سمون لري، قانوني واقعیت ورکوي:

- هر یو تن څوک چې د کډوالۍ د موقعیت لپاره <u>نوی</u> غوښتنلیک ورکوي، د کډوالۍ د غوښتنلیکونو د کمیشنر په دفتر (ORAC) کې هم د فرعي ژغورنې لپاره غوښتنلیک ورکوي.

- هر یو تن چې <u>اوسمهال</u> د کډوالۍ د موقعیت لپاره غوښتنلیک معلق ولري، باید کولی شي چې په او آر ای سي [ORAC] کې د فرعي ژغورنې لپاره غوښتنلیک وړاندې کړي،

3. د فرعي ژغورنې لپاره دا رقم غوښتنلیکونه به د او آر ای سي [ORAC] له خوا د اروپايي اتحاد (د فرعي ژغورنې) د مقرراتو، 2013 (.S.I شمیره 426 د 2013) (څرنګه چې اصلاح شوی وي) سره سم تعینولی شي او باید پلټنې یې ترسره کړل شي په داسې حال کې چې د دغه تن د کډوالۍ د موقعیت لپاره غوښتنلیک د انصاف او برابرۍ د وزیر له خوا رد کړل شوی وي.

4. **د 2015 د مقرراتو ترلاندې څه راځي؟**

**که ته د فرعي ژغورنې لپاره <u>نوی</u> عارض یې:**

د 2015 مقررات ترمخه هر هغه تن چې د کډوالۍ د موقعیت لپاره <u>نوی</u> غوښتنلیک وړاندې کوي، باید کولی شي چې د فرعي ژغورنې لپاره هم غوښتنلیک وړاندې کړي د کوم چې به د کمیشنر له خوا پلټنې او تعین کیږي په داسې حال کې چې د دغه تن غوښتنلیک د انصاف او برابرۍ د وزیر له خوا رد کړل شي. په دې اړه، کمیشنر باید بیا، د 2013 د مقرراتو (څرنګه چې اصلاح کړل شوې دي) سره سم او د فرعي ژغورنې عارض د مرکې څخه وروستو، د غوښتنلیک د پلټنې په اړه یو راپور ولیکي. کمیشنر

باید د انصاف او برابرۍ وزیر ته په دې اړه توصیه وکړي چې آیا عارض یو داسې تن دی څوک چې د فرعي ژغورنې لپاره وړ دی.

**که چیرې ته د فرعي ژغورنې لپاره پخوانی عارض یاست:**

د 2015 مقرراتو ترمخه هر یو تن چې اوسمهال د کډوالۍ د موقعیت لپاره غوښتنلیک معلق ولري، باید کولی شي چې د فرعي ژغورنې لپاره غوښتنلیک وړاندې کړي د کوم چې به د کمیشنر له خوا پلټنې او تعین کیږي په داسې حال کې چې د دغه تن غوښتنلیک د انصاف او برابرۍ د وزیر له خوا رد کړل شي. په دې اړه، کمیشنر باید بیا، د 2013 د مقرراتو (څرنګه چې اصلاح کړل شوې دي) سره سم او د فرعي ژغورنې عارض د مرکې څخه وروسته د غوښتنلیک د پلټنې په اړه یو راپور ولیکي. کمیشنر باید د انصاف او برابرۍ وزیر ته په دې اړه توصیه وکړي چې آیا عارض یو داسې تن دی څوک چې د فرعي ژغورنې لپاره وړ دی.

5. د پورته یاد کړل شویو کسانو د کټګورۍ په صورت کې، د فرعي ژغورنې لپاره یو غوښتنلیک د او آر ای سي [ORAC] د بشپړ کړل شوې فورمې SP/04 [د اروپایي اتحاد د قاعده 3A(1) (فرعي ژغورنه) مقرراتو 2013 (څرنګه چې اصلاح کړل شوې دي) ترمخه غوښتنلیک د فرعي ژغورنې د اعلامیې لپاره] د وړاندې کولو له لارې ورکړل کیدای شي،

- په شخصي توګه Office of the Refugee Applications Commissioner, Timberlay House, 79-83 Lower Mount Street, Dublin 2،

یا

- د ډاک له لارې ORAC Customer Service Centre, Timberlay House, 79-83 Lower Mount Street, Dublin 2.

6. کله چې ته د فرعي ژغورنې لپاره غوښتنه وکړې، ته کولی شې چې د او آر ای سي [ORAC]د فورمې SP/05 (د غوښتنلیک په اړه لانور معلومات د اروپایي اتحاد د قاعدې 3A(1) (فرعي ژغورنه) قاعدې 2013 (څرنګه چې اصلاح کړل شوې وې) د فرعي ژسغورنې د اعلامیې لپاره) بشپړ کولو سره لا نور معلومات وړاندې کړې او پورته ورکړل شوې ادرس له یې ورکړې. لانور معلومات کمیشنر ته د غوښتنلیک وړاندې کونې د نیټې څخه د وزیر له خوا د هغه یادونې په کوم کې چې یې د کډوالۍ د موقعیت د اعلامیې رد کړې وي، لیږلو د نیټې څخه وروستو تر د 15 کاري ورځو تیرېدنې هر وخت ورکړل کیدای شي.

7. د 2013 او 2015 مقرراتو ته په بشپړ ډول رسایي د کډوالۍ د غوښتنلیکو د کمیشنر په ویب پاڼه http://www.ORAC.ie ترلاسه کیدای شي.

د کډوالو د غوښتنلیکو د کمشنر دفتر

20 اپریل 2015